د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت

# پرمختیا

اوونیزه

۱۱۵ مه ګڼه • پنجشنبه • د مرغومي ۲۶مه • ۱۳۹۸



۹

# په بلخ ولایت کې د څه باندې ۵ میلیونه افغانیو په لګښت د یوه پله جوړولو کار روان دی



۹

په میدان وردګو کې د څه باندې ۵ میلیونو افغانیو په ارزښت د کاریز یوه پروژه بشپړه شوه



٤

په نیمروز کې د څه باندې ۵.۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوې لمریزې برښنا د شبکې د جوړولو کار روان دي

# تیره اونۍ د هیواد په پنځو ولایتونو کې د ۷ ښوونځیو جوړولو کار پیل شو

۲٦/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام د اقرا پروژې تر سیوري لاندې تیره اونۍ په ۵ ولایتونو کې د ۷ ښوونځیو جوړولو کار پیل شو دا ښوونځي د خوست ولایت په موسي خیلو او نادرشاه کوټ د ننګرهار په کوټ، د بادغیس په مرغاب د پکتیکا په سروبي او د کندز په چهار دره ولسوالیو کې جوړیږي.

دا ښوونځي ۱۰ ، ۸، یا ٦ ټولګي، تشنابونه او د څښاک د اوبو څاه ګانې لري.

د دې پروژو په بشپړتیا سره به څه باندې ۵ زره زده کونکو ته د ښوونې او روزنې ور چاپیریال رامنځ ته شي.











# په بادغیس کې له ۲۰ اړو کورنیو سره د څه باندې ۶۸ زره افغانیو په ارزښت د خوراکي توکو مرسته وشوه

۲۱/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام د غله جاتو د بانک له لوري د بادغیس ولایت د جوند ولسوالۍ د ارګو کلي د پراختیایي شورا له خوا له ۲۰ اړو کورنیو سره څه باندې د ۶۸ زره افغانیو په ارزښت د خوراکي توکو مرسته وشوه. دغه مرستې د ولسي تړون د ټولنیزګډون لپاره د مالي وجهي پروګرام (SIG) له خوا چې د خلکو ونډه هم پکې وه، کلیوالو ته وړاندې شوې چې غوړي او اوړه پکې شامل وو. د بې روزګارۍ او موسمي لوږې په موده کې د کلیو اړو کسانو ته د غله جاتو د بانکونو له لارې مرسته، دشتمنو خلکوله خوا د بې وزلیو دلاسنیوي فرهنګ خپروي.

# په بغلان ولایت کې د څه باندې ۱.۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د څښاک د اوبو د ۱۵ څاه ګانو ایستلو کار بشپړ شو

۱۹/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د څه باندې د ۱.۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د څښاک د پاکو اوبو د ۱۵ بمبه لرونکو څاه ګانو د ایستلو کار د بغلان ولایت د بغلان جدید ولسوالۍ اړوند د کارته□ جمهوریت د پراختیایي شورا لخوا بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو. د څښاک د پاکو اوبو د دغو څاه ګانو په بشپړیدو سره چې هریوه یې ۴۰ متره ژوروالي لري، ۳۱۶ کورنیو د څښاک پاکو اوبو ته لاسرسي پیدا کړ. د یادونې وړ ده چې د پاکو اوبو د دغو ۱۵ څاه ګانو د ایستلو په بهیر کې ماهرو او غیرو ماهرو کاریګروته ۱۲۵ کاري ورځې رامنځته شوې وې.





# په ننګرهار کې له ۱۰ اړو کورنیو سره څه باندې د ۱۳٦ زره افغانیو په ارزښت د خوراکي توکو مرسته وشوه

۲۲/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د کليو د بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام د غله جاتو د بانک له لوري د ننګرهار ولایت د کامې ولسوالۍ د قلعهٔ اخوند کلي د پرمختیایي شورا له خوا له ۱۰ اړو کورنیو سره د څه باندې ۱۳٦ زره افغانیو په ارزښت د خوراکي توکو مرسته وشوه. دغه مرستې د ولسي تړون د ټولنیزګډون لپاره د مالي وجهي پروګرام (SIG) له خوا چې د خلکو ونډه هم پکې وه، کلیوالو ته ورانډې شوې چې غوړي، اوړه او بوره پکې شامل وو. د بې روزګارۍ او موسمي لوږې په موده کې د کليو اړو کسانو ته د غله جاتو بانکونو له لارې مرسته، دښتمنو خلکوله خوا د بې وزلیو دلاسنیوي فرهنګ خپروي.

# په نیمروز کې د څه باندې ۵.۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوې لمریزې برښنا د شبکې د جوړولو کار روان دی

۱۳۹۸/ مرغومي / ۲۳

د کليو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوریي د څه باندې د ۵.۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوې لمریزې برښنا د شبکې د جوړولو کار د نیمروز ولایت د چهار برجک ولسوالۍ د مرکز بازار پرمختیایي شورا له خوا روان دي. دغه د برښنا لمریزه شبکه د ۱۲ اعشاریه ۸ کیلوواټو برښنا د تولید ظرفیت لري او د نوموړې پروژې د کار په بهیر کې ماهرو او غیرو ماهرو کاریګروته ٥٤۰ کاري ورځې رامنځته شوې او د کلي ۱۱۰ کورنۍ ترینه ګټه پورته کوي. د یادونې وړ ده چې په دې شبکه کې ۷۰ تختې، ۲۵۰ واټه سولري هېنداري او ۲۲۰ امپایره ۵۰ بطریو پر نصب سربېره ۲۳۰۰ متره مزي هم غځېږي.





# په روزګان کې د څه باندې ۱.۸ میلیونه افغانیو په لګښت د یو ګبیون ډوله دیوال د جوړولو کار روان دی

۲۳/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د ۱.۸ میلیونه افغانیو په لګښت د یو ګبیون ډوله دیوال د جوړولو کار د روزګان ولایت د مرکزد ترینکوټ ښاراړوند د خیراباد کلي پرمختیایي شورا له خوا روان دی. دغه دیوال ۲۰۰ متره اوږدوالی لري. د نوموړې پروژې تر بشپړېدو وروسته به ۹۵ کورنۍ ترینه ګټه پورته کړي او د کلیوالو ۱۲۰۰ جریبه ځمکه به د سیلاوونو له ګواښ نه خوندي شي.

# په بغلان کې له ۱۰ اړو کورنیو سره د څه باندې ۶۸ زره افغانیو په ارزښت د خوراکي توکو مرسته وشوه

۲۳/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام د غله جاتو د بانک له لوري د بغلان ولایت د پلخمري ولسوالۍ د نایب سالار کلي د پراختیایي شورا له ۱۰ اړو کورنیو سره د څه باندې ۶۸ زره افغانیو په ارزښت د خوراکي توکو مرسته وشوه. دغه مرستې د ولسي تړون د ټولنیز ګډون لپاره د مالي وجهې پروګرام (SIG) له خوا چې د خلکو ونډه هم پکې وه، کلیوالو ته وړاندې شوې چې غوړي، اوړه، وریجې، چاي او بوره په کې شامل وو. د بې روزګارۍ او موسمي لوږې په موده کې د کلیو اړو کسانو ته د غله جاتو بانکونو له لارې مرسته، دشتمنو خلکوله خوا د بې وزلیو دلاسنیوي فرهنګ خپروي.





# په بغلان کې له ۱۵ اړو کورنیو سره د څه باندې ٤٥ زره افغانیو په ارزښت د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرسته وشوه

۲۲/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام د غله جاتو د بانک له لوري د بغلان ولایت د بغلان جدید ولسوالۍ د دولتزیو د نواباد پرمختیایي شورا له خوا له ۱۵ اړو کورنیو سره د څه باندې ٤٥ زره افغانیو په ارزښت د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرسته وشوه. دغه مرستې د ولسي تړون د ټولنیز ګډون لپاره د مالي وجهې پروګرام (SIG) له خوا چې د خلکو ونډه هم پکې وه، کلیوالو ته وړاندې شوې چې غوړي، اوړه، صابون، شامپو، ګوګړ، روب اومالګه پکې شامل وو. بې روزګارۍ او موسمي لوږې په موده کې د کلیو اړو کسانو ته د غله جاتو بانکونو له لارې مرسته، دشتمنو خلکوله خوا د بې وزلیو وګړو د لاسنیوي فرهنګ خپروي.

# په لغمان کې د ۲۰۰متره استنادي دیوال درغونې چارې روانې دي

۲۲/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د لغمان د کلیودبیارغونې اوپراختیا ریاست په تخنیکي همکارۍ اودنړیوال خوراکي سازمان (WFP) په مالي لګښت اود(RRDPO) قراردادي نا دولتي ټولنې

له لوري دلغمان ولایت ، دعلیشنګ ولسوالۍ اړوند دجمشید اباد دسیمې د ۲۰۰ متره استنادي دیوال درغونې چارې د، کاریه مقابل کې دغذا، په توګه روانې دي د نوموړي دیوال پروژه دشپږ میا شتو په موده کې رغول کیږي چې درغونې دچاروپه بشپړیدوسره به یې دسیمې داستوګنې کورونه اوکرنیزې ځمکې دسیلابونوله زیانونو څخه وژغورل شي په یاده پروژه کې لس ګونوتنو کارګرانوته دکارزمینه برابره شوې ده.



# د ننگرهار په دره نور کې د يوه استنادي ديوال د جوړيدو هوکړه ليک لاسليک شو

۲۵/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د ننگرهار ولايت د کليو بيارغونې او پراختيا رييس او د دره نور ولسوالۍ د کشمنډ کلا د شورا ترمنځ د څه باندې ۳.۸ ميليونه افغانيو په ارزښت د يوه استنادي ديوال د جوړيدو هوکړه ليک لاسليک شو. د ننگرهار کليو پراختيا او بيارغونې رييس انجينر امان الله مياخيل وويل دغه استنادي ديوال ۱۷۲ متره اوږدوالي لري چې د کليو بيارغونې او پراختيا وزارت د سيمه ييزې همغږۍ پروگرام له بوديجې څخه د څه باندې ۳.۸ ميليونه افغانيو په لگښت جوړيږي. نوموړي زياته کړه ددې ديوال په جوړيدو سره به په ياده سيمه کې په سلگونو جريبه کرنيزه ځمکه د سيلابونو له گواښ څخه وژغورل شي.

ددې ديوال په جوړيدو کې د خلکو لس سلنه ونډه هم شامله ده او په نږدې راتلونکي به يې عملي چارې هم پيل شي.



# په نيمروز ولايت کې د څه باندې ۱.٤ ميليونه افغانيو په ارزښت د برېښنا د يوې لمريزې شبکې د جوړولو کار روان دی

۲۳/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د کليو بيا رغونې او پراختيا وزارت د ولسي تړون ملي پروگرام له لوري د برېښنا د يوې لمريزې شبکې د جوړولو کارد څه باندې۱.٤ ميليونه افغانيو په ارزښت د نيمروز ولايت د کنگ ولسوالۍ د عبدالحميد ده مرده پرمختيايي شورا له خوا روان دي. دغه د برېښنا لمريزه شبکه د ٤ کيلوواټو برېښنا د توليد ظرفيت لري او د نوموړې پروژې د کار په بهير کې ماهرو او غيرو ماهرو کاريگروته ۳۸۰ کاري ورځې رامنځته شوې دي. د يادونې وړ ده چې په دې شبکه کې ۲۲ تختې ۲۵۰ واټه سولري هېنداري او ۲۲۰ امپايره ۱۲ بټريو پر نصب سربېره ۱۶۳۳ متره مزي هم غځيږي.





# د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام د ښه تطبیق په موخه د همکارو ادارو له غړیو سره ناسته ترسره شوه

۲۲/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام په سیمه ییزه کچه د پلي کېدا په موخه له همکارو موسسو سره د دې پروګرام د کنفرانسونو په تالار کې غونډه درلوده، په دې غونډه کې د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام مشرتابه او د ځانګو مسوولینو د همکارو موسسو له استازیو سره د پروګرام د ښه تطبیق په موخه بحث او نظرونه تبادله کړل. په ناسته کې د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام اجرایوي رییس ښاغلي رحمت‌الله قریشي د پروګرام په اړه عمومي مالومات وړاندې کړل او د پروګرام د ښه تطبیق په اړه یې له تېرو درسونو او زده‌کړو څخه د یادونې تر څنګ یو لړ سپارښتنې له ګډونوالو سره شریکې کړې. د همکارو ادارو له لوري د پروګرام د ښه پلي کېدا په موخه ورته بحثونه د ستاینې وړ وبلل شول او خوښي یې څرګنده کړه، چې د پروګرام د مشرتابه او اړونده مسوولینو مشورې او سلاوې به له دوی سره د پروګرام په ښه تطبیق او اهدافو لاسته‌راوړلو کې اغېزمنې تمامې شي. د یادولو وړ ده، چې د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام د هېواد په ۱۱ ولایتونو کې د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت له لوري مستقیماً پلي کېږي او په ۲۳ ولایتونو کې د همکارو ادارو/موسساتو له لوري تطبیقېږي.



# په میدان وردگو کې د څه باندې ۵ میلیونو افغانیو په ارزښت د کاریز یوه پروژه بشپړه شوه

۲٤/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د کلیـو بیارغونــې او پراختیـا وزارت د سـیمه ییـز انسـجام ملـي پروګـرام لـه لـوري د میـدان وردګـو ولایـت د جغتـو ولسـوالۍ پـه خواجـه اب سـیمه کــې د اوبــو یــو کاریــز د ۷۵۵ متــرو پــه اوږدوالــي تـر رغولـو وروسـته ګټـې اخیسـتنې تـه وسـپارل شـو. یـاد کاریـز د ځینـو برخـو د رغولـو تـر څنـګ پـاکاري هـم درلـوده او همـدا راز د موسـمي اوبـو د ذخیـره کولـو لپـاره یـو چـک ډیـم او د اوبـو لویـه ذخیـره هـم لـري، چـې پـه یـو مهـال د شـاوخوا ۹۰۰ متـره مکعبـه اوبـو د سـاتنې ظرفیـت لـري او پـه راتلونکـې کـې بـه زیانـه کرنیـزه ځمکـه تـرې خړوبـه شـي. د یـادې پـروژې پنځـه میلیونـه یـو لـک، ۹٦ زره او ۱٦۱ افغانــۍ لګښــت د کلیــو دبیارغونــې او پراختیـا وزارت پـه غوښـتنه د مالـي وزارت لـه لوري ورکـړل شـوي دي، چـې لـس سـلنه ونـډه د سـیمې پرمختیایـي شـورا پکـې اخیسـتې ده.

# په بلخ ولایت کې د څه باندې ۵ میلونه افغانیو په لګښت د یوه پله جوړولو کار روان دی

۲۵/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د کلیـو بیـا رغونـې او پراختیـا وزارت د ولسـي تړون ملـي پروګـرام لـه لـوري د څـه بانـدې ۵ میلونـه افغانیـو پـه لګښـت د یـوه اوسـپنیزه / کانکریټـي پلـه د جوړولـو کار د بلـخ ولایـت د مارمـل ولسـوالۍ اړونـد د سـرمزار کلان، داخـل سـاي، حسـن آبـاد، ګذرپاییــن اوګــذر بــالا پراختیایــي شــوراګانــو لــه خــوا روان دي. دغــه پــل ۱۳ متــره اوږدوالــي او ۵ متـره پلنوالـي لـري چـې د جوړونـې کار یـې ۳۵ سـلنه پرمـخ تللـي دي. د یادونـې وړ ده چـې د نومـوړې پـروژې تـر بشـپړیدو وروسـته بـه ۳۰۰ کورنـۍ ترینـه کټـه پورتـه کـړي او ماهـرو اوغیـرو ماهـرو کاریګروتـه بـه ۵۸۲ کاري ورځـې رامنځتـه شـي.

